

Ketabton.com

# ورانګه

يوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندې
بيا پيرې په ځای ولاړ وي
او تيرې وي لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمان ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ

د هغه ټولو ځوانانو او ګړو مرېدانو

چې د بنیاد مود ښتونو ځنې

تېځندې د پښتو خولانې او د -

لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا

رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت

ته ور جګوي او ژوندنور

غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په ښش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي

څه په سرآسمانوې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پېلی[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادارهنر دې نه نړ ده
که نه یې چتی بازېدی شي

لیت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱-نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸-ملتل = ملکېدل

که سواره لوی فرعونان دي

که کلیم[ع] شي کوڼېدی شي

د برې لاري بند نه دي

که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د مېړنکارانو

ګډ په وینه کې د خانانو کا

بیا د ختو کوکوشتان ټول

الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا

رانسکوره زوره جهان کا

پرېباسلي او نتلي[1]

د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې مېړه خېل دی

ټینګ په ننګ او په خپل خپل[2] دي

د زمرو ماڼې[3] یې ژوند دی

چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتار شوی، ۲- خپل = هوډ، ۳- ماڼې = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې
ترمې وینې هم رامبېل(۱) دی

د خپل تنګ دې پاتې شوې
په کولنډ(۲) دی که په ښکېل دې

رشی ځنګه بې کونډې(۳) شي
چې ځانګې(٤) همه رشپېل(٥) دي

داطبیب به دې ځنګ روغ کړي
چې پې چارې دشاخېل(٦) دي

چې د دروزې(۷) پې تښې وي
په وینو پراته غلبېل دي

چې جامه یې کاسیرې(۸) وي
څه په چېل(۹)، څه که بې چېل دي

د باتور انګې(۱۰) ورو ستې ده
مشرې که په چارخوېل(۱۱) دي

---

۱ـ رامبېل = یوګل، ۲ـ کولنډه = کټه چې دغوېې، څاروي څټ ته یې اچوي چې دآزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳ـ کونډې = کامې کېټې ـ خلېل، ٤ـ ځانګې = درې غاښې ٥ـ رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦ـ شاه خېل = چې شاه خېل کوي یعني ځرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷ـ دروزه = دغنمو دانې ـ تیلې، ۸ـ کاسیرې = بدلمنې ۹ـ چېل = پروني، ۱۰ـ انګې = یوه لوبه چې وایي انګې انګې مل دی ځوک دی ،
۱۱ـ چارخوېل = قرقره

نه د دین، نه د سا[۱] دین دي
خوار متازه د سوئیل[۲] دي
شاید بیا خلیل(ع) زرغون کړي
"مومنان" ټول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکي وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[۳] پېښې
ورېږي تندي باندې مېږونه
د ملخو نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګيالي په دار بر سېره
غورځوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

۱- سادين = اړولی ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس - توزیع

په جرقار چې لړو بر کړي
بلالي رض هغه بانګونه[1]
چې دا خمکه دخدای کوړکړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګيالي دي شاه مېړونه
لکه حق يې کړ وړه وي
دننګيال په مټ، په توره
دلته اړ دخښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
دننګيال دمزري زړه وي
تورخنګلونه[2] خوندي وي
حق ننګي يې غرين کړه[3] وي
ساه يې واچوي جوش[4] کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
دناحق وړه[5] بتول پره کړي
وړه هغه کړي، چې تل پښ وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورخنګلې = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو
۴- جوش = تنه ، ۵- وړه = بربالي.

د ګیدړې په اوړو نه شي
چې په غرمب دښتو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په توږو، په نیزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وینو په خولو شي
چې د باز شوګې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګیالي یې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هوډیالو شي؟
دراسمنو چارې کله
د ناراموٌ[2] په لینګو شی
دژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو توریالو شي
د ځیرک مېړانه کله
له درست کلی دړندو شي

---

۱- منښته = زیارتونو ته دورو دپاره په ځان ځه منل، ۲- ناړام = ناغیږ-ناراست .

چې رنځور باوېړې[1] وکړي
پوچې هیلې د داروشي
آدم وګوره ای مارکسه!
کله بې سود په کوروکوشي
د ځانګو د کوچنی نمرې[2]
پوره ځرنګ په ځلموشي
چې د نمر د روڼاوي وي
روڼ په ځنک په اورکو[3] شي
عقل څه خوږي اتې دی
راسوړی[4] په خپلو ملوشي
د ځیرک سر پوره والی
د حرې په سپاروشي

چې له مال خبره واوړي
پت په سربندي پاله شي
کائنات چې په منګل کړي
دا سرې سرې باله شي

---

۱- باویړې = بابېړې = د نارو غې بیا تاندېدل، ۲- نمرې = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
٤- راسوړې کېدل = راګرځېدل- راخلاصېدل - راختل.

لوښتي نه تلي ضبا څوک
هم يو «زه يم» به تاله شي

ښکلي هغه چې ښېوه(۱) يي
يو د «زه يم» په پساله شي

زه يم هر کله ځلمي دي
دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحر وي
چې دا ځمکه يو کاله(۲) شي

په يولوی سين کې غرېلی
چرې، چر، لښتي، و ياله شي

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خيره نه وي
ورانوه لارې زړې

حق به هله ميشته وکا
لومړي غير چې وشړي

يا سړی ياد څړی شه
حق ناحق ولې ولړي

---

۱- ښېوه = ډول- ښايسته والی، ۲- کاله = کور

زېبنا کیان چې له مینځ ورک شي
پرګنې به شي مړې
لوی اتیان لکه اوګې[1] کړي
د جګ غر تیږې وړې

○

ستور څار کو دواړه کسي
په څار لوګړل تنها کې
نږی وټ یې چرته بیا موند
برد ستورو په دنیا کې

○

له کاروڼو او له شکو
سره زر وښکل ګیږ[2] یګرو
الوول حق وناحق دي
څنګ تر اوسه ستړکورو؟

○

د بوذر[3] د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څومخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوګړه د څاروود خوړلو نه وروسته پاتې کېدونکي ګیاه یا تاڼتې، ۲- ګیږګړه ګیږ کوونکي

جوړوي د ښېښو مېنې[1]
ځېرکان خوښيبه کړوي
د وختونو په ناتار کې
چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده
پرې له سوخته مارکسان ژاړي
سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"
د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو
د صورت هسې د وړېږي
ولې "زه يم" يو توکيز[4] دی
يو توکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود دې څه دئ؟
د حجرو[5] الوولتيا ده
او حجرې د خاورين توکو
خپل ترمينځه اتحولتيا ده

---

۱- مينه = کور، ۲- دبړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يو توکيز = د يو توکی نه جوړ- چې ګډ ونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژونديکی.

دا خاورینه واړه توکي
دېر ښېښنکو ړغونې دي
او برېښېښنکو ته چې ځير شي
تشي ترقنده ځپې دي

○

دين همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنيخ
دين ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه يې چارمېخ

○

ګرلاسي کندوان يې دک شول
چې جب جوب شول په خولو کې
ځارله هغو توريالیو
چې په خپل دي سرخيړو[1] کې
غوړه[2] ټوله دې په ځان بڼده
تش لمن که يې پسرلو کې
ساده ګوري ملغلري
ځسا ډنډو کو خرخوړو کې

---

۱- سرخيړه = سرپړه ، ۲- غوړه = تومت- ګورم والی - ملامته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې ګواښ په ستورو کېږي

ته هم زوره څه نېزوکې

څه ناویاته چاره وکړه

مېرنیه! په تلو تلوکې

ګوړېمار[1] چې د بمبل وو

هغه سر په مونډو[2] دی

کړولې[3] چې د باز وې

پډلولکو په شوغو دی

چې د برید او د غدې وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې څښتن د لوی اخوروُ

اوس د پوچو کسبېدو دی

د تیرو تورو بوُر[4]کې وُ

د بې سترګو د کنډو[5] دی

---

۱- ګوړیمار = داتمان دمخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د ګوړې (حلقې) د ننه‌کې ویشتونکی

۲- مونډه = دمخې په لوبه‌کې په بُت د تیلی ځمې نه ښکته وچې کېښې لوېږي، ۳- کړولی = د ښکار ځیرکولی، ښارلو د پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زړې، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځني نا ميـنده
څه د خوشو عقيـدو دی.

بازداري يو لـوی هـنر دی

ته په يو ښېله[1] بازداري
چې نه لري جـمـ ـپ
په نامه باندې ميشکاري[2]
تش غړ بازو وته ناست يې
څه که ځوې د لوی بلا رې
ته مېرښکاره کړيز غـواړي
په ښه ښه مـرداري
يې په تومنه له و يـارلو
خو په چاروکې د وياري[3]
له قرآن په غير هـٰذا
بې صلوٰة مونځ گذاري
کله سرگرېوان ته گوز کړه
چې داولې دومره خواري؟

---

۱- ښېله = د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار = بازوان، ۳- وياړ = شرم.

چې پټولنه ترآني وي

دا سړي به شهسري[1] وي

دا تنزري تاروګي به

بيا بازونه وهندي وي

دا پريوتي، دا انسټ[2] به

بيا ښترې آسماني وي

چې نومړی په قام قام دي

بيا به ټول يو آدمځي[3] وي

د نن شخولي[4] او کاټي[5] به

صبا توري او تبري وي

په ونډی[6] ځمکی د نن به

نه ځمکوال، نه شيخ ملي وي

نه به پولي، نه بيلتون وي

نه نها، نه زمايي وي

يو آدم، يو آدمتاله[7]

په کښن رنګ به يورنګي وي

---

۱- شهسري = سترسړي، ۲- پريوتي انسټ = بوښتي دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن، ٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تيکی، ٦- ونډي = داسي حلال کړي څلوري چې پکي خلقو برخې (ونډي) ملستي وي، ٧- آدمتاله = ټولنه چې پکي د ځمکي ټول استوګني (ځمک زي يا آدم زي) راټول وي يا سره راټاله وي

آدمخوني[۱] به یو کورو وي
وران به کور کې کور کې وي
درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسې[۲] وي
نه مړیې نه به ښخښتن وي
نه به غټ، نه به نری وي
نه کاواک، نه به بې واک وي
چې لله به ټولواکې وي
ټولنوال به ټولنوال له
رب، رحیم وي، او ولي وي
هم به یې کسب خالقي وي
هم توره[۳] به یې رازقې وي
وی پاخون لکه یو تن به
یو تاله به مختڼکي[٤] وي
له ختیځه تر لویدیځه
به یو ستره ورورولي وي
په حدونود کتاب کې
به دعقل خپل منځي[٥] وي

---

۱- آدمخوني = څمکه، ۲- جسې = ورتیا - اهلیت، ۳- توره = قانون - تره - ترلي لاره - لاره، ٤- مختڼکي = مخکې تګ، ٥- خپل منځي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځار پرې به له ټولو
ټول له یوه به لوګي وي
له قبلو دې کړه وړو
به یوه کعبه موندې[1] وي
له زړها اوړ اورګو به
د حرۍ یو رڼایي وي
سرې ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستروالي وي

ستا خیرې درست کائنات دی
ته لاکوز په خرخښو[3] یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په د ښنو[4] یې
ژوند له تنه کړه وڼیز[5] دی
ته ځان ځانې به ترڅو یې

---

۱- موندمه = راکښل ناوی ـ دغوبل دمینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر دښیا دم نړیتر نوړ ټول کائنات ۳- خرخښې = جګړه، ٤- د ښنه = دښمنی، ٥- کړه وڼیز په کړه هستیدونکی.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترنن د کورکوي
یو کوړمه[1] واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلوي
دیوې حجرې ږیبنده
د حجرو په بیل کلوي

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجري کا ټولي
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو ورورولي دَه
نه ملګري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلې د مرګ لاهو کا
سُرد امن کا تارونه
پدې ځمکې ـ آدمځوني
بیا برسیر کا جنتونه

---

۱ـ کوړمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپیره سور الوزي
دد ویزاره راپریوځي
له دې چې قند نا تار به
هم پاخه بښتې وځي

چې د ژروند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینکو وځي
راخوره شي پرې دلوړو
اور په خوله ځوځې ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بر دی
دعوه کېږي دکتاب کوره
د همه قامونو لر دی

۱- سرتوره = دسر قانون- اساسي قانون- بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب- بند.

د زردارو په تـړلـنې
دې ګټونکي په بايلـنې
د شته منو شته منې ده
د نيستمنو له نه بېښنې
د مار وکوښي[1] جوړېږي
د تش[2] باڼو له څـرمنې
د زردار مـاڼۍ ولاړې
د کارګر په تـڼې پـلنې
د ډک[3] لاس سپينه جامه ده
د تش لاس و په ريمـنې[4]
بده ورځ د لـولنـګرو[5]
دازل نه دې ليکـنې
د باطل تولنـه پايـې
د مذهب په سروينـځنې[6]

---

۱- کوښي = پيزار، ۲- تش باڼي = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤ - ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېټې
نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وګړي ټول که آذري غواړي
ښخبنتن له تا نه خليلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولو له
واړه وختونه کليمي غواړي
په تشو تيکو که کتي کېږي
د ننګ د کړلا شه حلمي غواړي
وګړي ټول سر قوي او پايي
حق د ميړه غوندي څوندي غواړي
ښکيلاکي عمرد خاروودي ګوري[1]
څوندي آدم به مخ کښي غواړي
د اباسين خونړي نيزاوچلي[2]
د جاليوانو سر هنګي غواړي
په هسک او تل د حقيقت له ټول
تل سر ببري ليوني غواړي
چې د څښتن لاره د بکولي شي هم
څوند اسي زين او هک سر يې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيزاوچلي = سيلاب اوچپې.

دهڅ قامونو په خرخشو کې

واړه قامونه بې هيڅه دل شي

دميکياولي د شهزادګانو

په ژمنو خپلو کله عمل شي

خپل ګندکونه به پرې ناتار کړي

ګډې که نتولې زمري ته تهل شي

غبنتلي مټې دځان کلا ده

کمزوري متې دځان اجل شي

که سربېرې هوډيالي پاڅي

په ريزکو[1] به داهڅ بدل شي

چې دحق سره په لار دي

لکه حق هسې بې ښار دي

چې دحق دلارې بېل دي

په دنيا په آخر خوار دي

يو وياړلي[2] دحق رنګ دي

بل هر رنګ آخر دوښار دي

---

۱-ريزکي = کوچني-وړوکي-ناشي، ۲- وياړ = شرم-پيغور.

چې تیغه[1] کې حق ته ولاړ دی

د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړه» نا روز ونکی

خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوری

ګل ورین هم تنه ر چار دی

په توله چې د هتول ژوند دی

حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی

نو په خدای هغه مختار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې

شیخ ملی وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تپي وي

لرې برې نورې لرې

د هتولنو د لرمون به

زرینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کږه وږه - نقش -

۲- مختار = روېدار - دروند.

شي ځوري خلقي به

بې دولتي (۱)، يوه ځري (۲)

درپه درخاورې په سر به

پرکښې وي لولنګرې

دټولنولوړ شور دا –

خپلو بدو له اشرې

عقوبت په غرغنډو شي

چې دکيا (۳) وي اورد سرې

تاله ټک د ادم ارږ دی

په يو ورځې برابرې

چې پرې دروي کائنات ټول

ستا هم هغه لا رمخبرې (۴)

○

دا چې ځان خانتوره (۵) بولي

دا چې هرچېرته شمله دی

نيسمنان په کمنډه (۶) نيسی

وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- يوه ځری = چې يوازې وي، ۳- دکيا = چې لوګی کوي،
٤- مخبرې = په بړمخ، ٥- خانتوره = خان چې تړل پرانستل کوي چې دتورې خان وي،
٦- کمنډه = کم ذات - کم اصل - کم سيال



PROPERTY OF ACKU 7990

له ازل، وايي بربيال يو
نور په برخه شاګند[1] دي
دوی له مخ د خدايه رغ[2] دي
نور له پښتو يې زين نده دي!
کومه نوره يې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نېستمنو کوم ګناه دی
چې نيمګړي، نيم کوره دي؟
او په هره يو ښتولنه
پړ، پرهوتي او روړه[3] دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم‌زی ټول يو حجره دي
له يوې حجرې راغلي
قام، قبيل، تپه تپه دي
لوړ زور دی له زبېښاکه
شته په نيشو[4] آلوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شايي لکېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نيستمن، ٥- الوده = لنبتي - اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرکه دي

د فرعون د کور د ننه
په پاڅون آخر موسی[ع] شي
د باطلو ښاماران ټول
تار پتار يې له امسا شي

○

عقل ليت دی، ډيوکی ده
پرې قدم قدم روښېږي
کليمه هغه شهٔليت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توري هر کله ښروندي دي
د وختونو په آسمان يې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړو پېړو کاروانه نه مېړونه به بيا بيا کړي
شاه مېړه کړي هغه چاري چې پېړۍ پس يې دنيا کړي

---

۱- شهليت = شه + ليت = لوی ليت،

○

چې په ځان پلن[1] سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کوڼاره چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هوډيالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له يوې بلې تپرې ته
د زړګي[2] زمري غوڅنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني شنګ کړي
ننګ په حق با ندې کوونکي
لکه ځان با ندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بيا ورپاڅي جهان رنګ کړي

○

کليمان د ژوندون لاره ... رېبې دستګوکې په ډک کړي
ځيرکان يې په ليتون کې ... ترعمروونو سرغونډ کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن، ۲- زړګي = پر هلر زلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زړه ئیم اوده دی
د بدلون پدی څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مړی هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتارکې هم یو زړه ئیم «دی خوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده نو دا زړه ئیم «دی موندي دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- څاندړه = همتر- فریم سکلیټ ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی .

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي
چې موندلې یې وي اومړې[2]

د کچه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هر څه چې دي نوربړي

له هر زبړي[4] د هجري نه
لکه ځان هسې رازبړي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی　روزنګوی[5] د بدلون دی
د هجرو په کېچ کې اوسي　او د سترګو تش الون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړې = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
۴- زبړي = هغه څه چې زیبې ول کوي، ۵- روزنګوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

○

ټول فطرت يې خوږي تالیږه[1]
آدم نږی جدا جدا وړي

د ځاني سود غم خوړونکي
له حق لاري پښي پښا وړي

چې په نور و خپله ويش کړي
خپلي برخې نه سيوا وړي

چې مشال نور و ته جګ کړي
خپلي مخې ته رڼا وړي

ځوند او مرګ يې دواړه سنګلي
د ځورلو چې دعا وړي

چې له خپل میړه آګاه وي
د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده
چې شي لټ. په هغو واوړي

---

۱- تالیږه = په جمع - تاله.

۲- اوښتون = انقلاب.

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي
د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خېژول دي
کتابونه دې ردجیل
سوزول او بړدول دي
د آدم نه دې یاد کړي
د عمرونو هېرول دي
که مذهب یې هم سره وینځي
چې باطل دی نیشکول[1] دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي
په هر پل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نیشکول = ورکول - په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سندان تندي به چېرې کروږنځي شي
د درنده ولکو نو جوړ که پرې نانا روي

د مېړه نیستي یوځو وړځې نیستي وي
نه مېړونه شاعري نیسمن او خوار وي

د رند و عقیدو خلقو کې همېش له
ښتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه یې په لاس کې چتې[1] کېږي
ځان به و پوهېږي چې د اغزنګ بازدار وي

چې توره[2] د حقه ملانو[3] خپلوي ځوک
یو قدم یې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې ستر کې غړولې ورله بویه
که رڼا یې لا لیدلو له پکار وي

د رباب خواږه دې نشته آدم خانه!
ښایي خلق چې له میلسه[4] دې ویزار وي

---

۱- چتې = ورکوټي مرغۍ

۲- توره = قانون - لاره - منهج

۳- حق مل = دحق ملګری

٤- میلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښه نیسي له غور ځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپستنه شي څنګ له جنګه
پوهکړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندي د کلیمو تر قلنګه
چې یې مټ د غلیمانو وي کتلی
نه ویرېږي یې تشه د ننګه د ننګه
د مردی توره میدان کې لاسته کېږي
خلاصه نه وي یا د کاټی[1] توره له زنګه
پخپل زړه کې زرغون شه او سمسور شه
خو دې نه ده لا کوټی[2] خاورینه رنګه
چې یې جسم د تن په مورګو پړ اوړي
خود مغه ته وي کړنې د جهان تنګه

---

١- کاټی = تیکی - چړتون

٢- کوټی = د داني کڅوړه

يو بري د يو جنګ غالي دی خوندي که
بيا په بل ميدان بر ښنا او تالندي که
چې دلوی ښتن د لاسو سره ښايي
شاځلميا! ځان په داسې کار بندي که
په حجروپه جماتو نوکي تور تم دی
د ډيوې غوندې لنبه دې په تندي که
د ميړه د څوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به يې خندکه په تولنکي کوندي که
چې د خپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به خنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د ښارو و به خندکه وځي
چې په مينه مينه ښت ته غوږ وندي که
چې يې وينې د نړوني له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاک کوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښنه (1) شه

د ټپانده اباسين خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړېږ سختۍ په ځان کړه

پسته باز په الواته شه

په خپل ځان قيد ونه کېږده

زرغونه شه او بيا شته شه

پولې ړښکه، پانګې (2) کېږده

بيا په زغاښت لکه مېړه شه

د ښتن د لاړې مل شه

له ښتن ځنې لاړغه (3) شه

په ړېبلوچې ورک نه شي

په لوښنه (4) لکه واښنه شه

دختيځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مروړې - پلګواښنه ، ۲- پانګې = ميړ- ډک - مرام

۳- لاړغه = لرغونې - وړاندې ، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

په ټولنو لیوګان ګډ دي

هر ورکړي لوی اوکړ(١) دی

لولنګو ځکه په نیش دي

درناوي چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله(٢) یې مله(٣) ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د خان بد وله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډکیا(٤) سوسر(٥) دی

---

١- اوکړ = اولال، ٢- ډله = ګوند، ٣- مله = ملګري، ٤- ډکیا = لوګی.
کوونکی، ٥- سوسر = د ډېرو سپیاکو اود چې نري نري لوګی کوي.

چې ځانه ښکې بدې مينې
وابه نه خلې تورې څټې
په کڅونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تور ګټ سوي ديوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تيرو تورو
ستا مصرۍ توري دي سمټې
چونکه ايره يې پاتې شوې
وې انکار د درنې سټې
حق ننګيانو ته وريتيږي
د بې ننګ هر ګاله بټې
لات منات چې ګذارې څوک
شي په خپله يخې ګټې

خرې، ځکه شوې، خیالي نه شوې

د «لا» شي ځني شی نه شوې

د جنس ترغی نه نا مینده

تَل نچه شوې کنی نه شوې

تشه شخوله - خالي تیکی

بمبل توره، توبری نه شوې

له حجرې تر سرې راغلې

لاپه «زه یم» سری نه شوې

له مذهب چې ملستل دی

لدې مرینې ثروندی نه شوې

انځاره کې[1] چې دی پروت دی

هغه ستر آدم زی نه شوې

مبنګیری درته آسمان دی

ځکه باز، باتورزی نه شوې

هر آدم چې دی فرعون کړ

پې بلواک، ځانوکی[2] نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی- نقش

۲- ځانوکی = ځانواکی

○

د وګړو سالار په ړدی
خرسواره چې شا هسواران کړي
د کوځو لارو کوڅو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
کوګوشتان داو موخننو
سندان سري اتلان کړي
لوړاو کوز سړي یو سیال کړي
اړو پیڅ واړه یوځان کړي
چې سړي پي نه سړي کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
دلالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدرېږي
را دبر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټول
په رښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړو پیچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړدو.

په میروکې د ښکلو نه راټوکېږي
سرۀ پوپنو دلاله پکې جوړه ده

ننګیالي دي چې دلوی څښتن په تارې
پوره ټکرې د نړۍ ټوله باره(1) ده

نه تنزړی یې، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره(2) ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه ګویې
زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هوښایي(3) په ټپوروند دی، ښکار ترشي
که نه یې نن هم پرته هغه د ګزه ده

د ګزي(4) غشی دې هر وخت په سر دی
په دیدوان(5) باندې دې اره پره، وره ده

صبا ښکه د شولان ګټو ته مټې
که دې نن ګټلی قام لره اوکره ده

---

۱- باره = مسئولیت- ذمه واري- پړه، ۲- اداره = وړانه- ګټې- لوټې،
۳- هوښایي = ښکاري، ٤- دګزي غشی = دوړې پرې ګوزار،
۵- دیدوان = شیش- څیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه

لکه کوږ هسې یې غار

لکه اوښ هسې یې سوری

لکه پښه هسې پیزار

لکه باز هسې یې ماری

هسې باز لکه میشکار

لکه ږیره لاؤڼ هسې

لکه سر هسې دستار

لکه توره هومره کټه

رَشه هومره خومره کار

داوچت الوتو پانګی

د شهپرو په مقدار

د ډیوې رڼا تر کوره

نمر په ټول جهان اوڅار

د بې ننګه په رنګ ډېر وي

ننګیالي نه لري سار

چې د لارې اوښکو نه وي

په هغو جوړیږي سالار

لا يې ډېر وکړي ګاندي
يو منصور خېژي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د اَتيانوس باری وي
په ملخانو کرګمار[2]
کليمان نه شو تول عمر
له خدايي چارو وزګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربينونه[3]
مذهبيان د خپلي ماتي بيرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب يې رواشته[5] کړيدي هډونه
په هغه سالو چې ځان له دوړېږي
دي عبث د انځورونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډی = کيدر، ۲- کرګمار = يوغردی، ۳- غربين = يوټوپک ،
٤- راتاندون = بيارا غبرګيدل، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب یې چې تو دې وینې کتګل شوې
مسلمان بایلل ملکونه سنګرونه
له مذهب ځنی لوی شرک په جهان نشته
ګوګلې یې په نیش دي استونه
د مذهب دغوندلانو تنستو کې[1]
ګل[2] ډیوکی دي دعلم د بیوستونه
له مذهبه هګ ځلمی تول ریزکي شي
ریزکونه کله کیږي لوی کارونه
تکی تکی دکتاب نن هم هغه دی
خومذهب تري نه وښکلی دی ساهونه
چې تر څو دغه مذهب او داملا دی
وي تالابه د تالا قاموسونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده
توربازي دی تیغ بندي ده
له باطل دځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمنی
۲- ګل ډیوکی = دګل ډیوي

له فطرته دې پرده ده
له فطرت دې سرزوري ده
کليمه دې سرټوب دی
سرټوب دې سرهسکي ده
د بل غم هم د ځان غم دی
دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کليمه بيا خلق ژوندي که
دا له وارو وروستو شوي بيا لومړي که
دا چې خاورې يې له مخه نه چاڼېږي
د سپوږمۍ په دود مخونه يې پرقندي که
ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي
له ټولنې ژوندونه وړکه ګوندګوندي که
شاه مېړونه له زړګونو ستورو تېر شول
بېړې راښکه خپل ملګري ګرندي که
د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی
چې ګزران د بل په سوي کرپندي که
د پسرلي درنه وريځه شه په خوی کې
ځان وړښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کو رو کاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو[1] کلي وړانول نه ده
د راسمانو یې سمول نه ده
که اوندي[2] جوندي د دوپړک[3] وي
د یکړنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چوڼکوړکان هم کراولي کړي
لکه بازکله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي[4] کړان کړي
نوکلیمان یې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي[5] ټپول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانی پیداکوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړونی
چې غوښې ړمبې نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د
هیڅ بنې نه وي یا تش کټ پړې ډک وي، ٥- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په څو شهپرو خپلولو
منګیرک او غلیواز نه باتوریږي
دیو بُت په لړېدلو بُت غلیمو!
سومنات نه په کعبو کې نه بدلیږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړوکې
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کیږي
چې په پړوکو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي
چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواړوي
دغه سوي چنارونه نه تاندیږي
د قرآن واړه رښتلې عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهېږي
د تیرو سړو ملستي بنا پیرګئ نن
د دنیا په تکې مرګئ ته ببریږي

شاه ځلمي دی نوی څمکه آسمان غواړي
دزوړشوي په ځای نوی جهان غواړي

دخپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه
مرئیتوب نه ـ ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کره غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یومخیزي[1] ځیګور ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ځوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کټې نه شي
د ځوند ستونځې میړنی قهرمان غواړي

په یوماره که کاوزشي، سود یې نه شي
چې ځوندې وي یا نوی ماری زمریان غواړي

---

۱ـ یومخیزی = چې مخ یې یوه وي ـ د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کړاولې کړي، یرغلونه کوي
لوګین[2]، اوریږه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
بریښ دژوندی تومن غونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرڼول
برهغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
دهسکو سترګو معاشونه کوي
عقل بهیر کړ غورځنګ دشعور
ویر ویرانې ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګینږ = دکانوریځ یا نیبولا،
۳- اوریږه = هغه نیبولا چې ستورې پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په څنگ، فطرت په ترڅ
تشې ځاندې وي، زور یې اوبه وي
عقل یې شل وي، هڅې یې کټه
په غټو گوري، ولې ږانده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو د قط نه وځي
نه یې خوابډه وي، نه یې تراخه وي
په ((ن)) په ((زه یم)) د وارو نیستمن شي
ځوراک یې خساک، څواره یې اوښنبه وي
په زاره شخوند کړي، نوی ترې نه شي
نوی برید و نه خود مېره وي
چې یې ږاغوند کړي وار کړلي
دیو گنجکی دار زښت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسو کلینو د لړیون نه

اوړین ستوري راغونځېږي
ستورتیلیزې سروهي لا
کائنات لا پراخېږي
که یو ستوری ورژېږي
نوی سل راټوکېږي
د ښروندون زرغونېدو له
نوې ځمکې سادینېږي
چرته ښروند دي په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو میرو کې
د ښروندون غبږې غبږېږي
یوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شنخړې ځمکې ښکته پورته
ستورتلینو کې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس ور ورسېږي

عقوبت به له دې ځمکې

درته کړېږي په سر کېږي

د مېړونو ستوري بېړه دي

له سپوږمو ستورو تاوېږي

د يو نوي کور لټون کې

دآسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکنۍ به

ستورکۍ زو ته ورسېږي

دژوندون څومره رازونه

به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لالا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مړي یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نه بهېږي هله ورک شي
دربړیا(۲) اولس چې کله په پاڅون شي

داو یار لې څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدۍ کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریوړي
قافله یو قدم مخکې د شړوندون شي

که هرڅومره سنګرونه له ځان تاوکړي
عقوبت د ځمکې تبې هر قارون شي

چینشنۍ(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تر له مړیستون(٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پاتې کیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،
۳- چینشنۍ = چې چیناسکې یکې شوی وي، ٤- مړیستون = هدیره.

د دوران په زلزلو غرونه رغړي
په شکلي ډېروکي څه له وياړه پړېږي
تلناوونه يي رواسته، موږ ئې خوړلي
چاڼ کېږدی کي به ترڅو پوري اوسېږي
د پرښبتر په چورلندو ځمکې له تللي
کچه ډيلي! په خپل خېزڅه غلطېږي
د سورسين چيچي دمه وښکه له يادو
اې فرعونه! چې کليمؑ پسي پاڅېږي
د ملخ څانګ سړدي ملاشوله دوه غبرګې
ته لا څې د اٰتي بارته لاندې کېږي
لاالٰه بتکورکوته ښکرپوکل دی
که مؤمن يي تروروستي بُت به جنګېږي

کلیمه يې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپين غر شي
کلیمه د سړي برش د شين زمري کړي
لړو[1] بروړته د ګه وخپور لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسير وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي
ننګيالي په جهان پټې راتلي نه شي
دوی د هرې سرخېرې[2] وتلي سر شي
د هر کور انغری تود، تياره شي وړکه
مېړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي
له تونګه[3] د عيسی چې نمړې وخوري
که د ختو کوشتان وي په وزر شي
د مذهب د مدرسې نه هيله نشته
چې يو چېنی هم د بدرلېچور شي

---

۱- لړ= کوز
۲- سرخېرې= د جنګ غالی سرپه
۳- تونګ= شکور

دغلیم د بریدا و چیغي[1] حاجت نشته
لاس ترکړیوو چې پخپله سنګروال شي
دکورقام بدخورمنځي[2] په خان ناتاردی
په تیغه که باتوران وي تش پیچال[3] شي
تانک دکټي، د یرغل یې دلاس وځي
چې دچاراتلونکې توري نه اتال[4] شي
ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه
دروزلو چې څوک نه وي کوتي لال شي
ځماتونه، مدرسې او چیني د پرشول
خوله چاهغه بانګونه د بلال شي

چې دخاوروله کالبوته
اوده «زه یم» برسیرن شي
په اجل باندې بجل را شي
بنیادم ولاړ شي تلن شي

۱- چغه = ایه، ۲- بدخورمنځي = بې اتفاقي - اروپیچ، ۳- پیچال = د باتورغل - غرباز، ٤- اتال = په طمع - پراسره - معطل - ایسار.

دژوندون دغورځنګونو لوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی

د فطرت غېږه پرانستې ده هرچاته
بود هرچا هم په قدر دخپل توان دی

دا په تاده جوړوي کائنات که توره
خپور چاپېره د جنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمی تولي اړ په مټ دي
مټ کول د بنیاد موږ په ځان دی

چې یې زده د سورکو وینو کښېدي دي
د هوهي ځائخه کمي پدې جهان دی

د باتورلښي دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل دلوړې ویږۍ[1] ښان دی

چې سرهزي د نوښت[2] یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- ویږی ښان، وږی انوونکی، ۲- نوښت، پیلات- ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډۍ چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل نخونه یې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یوه دره سل درې وي

○

د توریال زړی راخېژي په سوسرکي
دهوډی هڅي و باسی لاري غرکي

توربر سینونه يي پخپله غماز کرشي
میره کله پټېدی شي په لښکرکي

"ستوروڼا"[1] کرښې د څمکي کرله ماته
شخوي بیرغ د ستوروخپل دوتر کي

مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلري راپنه کړیدی څادرکي

زهري خویه په یوماری ورپېوځي
بله ماره يي نیولی وي نظرکي

مرډکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د میږونوی سنګرکي

هره ونه خپله میوه نیسي
چاموندلی دی کروسکی په کیکرکي

---

۱- ستوروڼا = (یوه ډول مرجوڼا) د سنوړو ښکاري

زردار هغه کورکښان دي
چې ژوندي بنیادمان خوري
سړیخور په پټه یې نه خوري
سنه برسیر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا ، څه دوتریان خوري
یووَری یې په شا پرتوي
بل شنې لښتې بارګیران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمت یې بې کسان خوري
روایات راپاخېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان وار و خپل ځان خوري

(c) kessaboo.com: The Digital Library

چې په منډه د هوډ یالو ځي
لاړ یې خود کړي کړي وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګ کړېږي ژوندانه وي
د برم د کې یې شملې وي

چې د مټ مجال یې نه وي
د هغو ناندري کیلې وي

د باتورو هسې ګور
څه که یو موټی بینې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژیاني یې تاو نه شي
نو هغه لینډی پړکې وي

چې وهي د تنکسي توري
په هغو کله تنکسي وي
سپوږمۍ، ستوري، ستور تیلیږي
د میړونو برآمتي وي
د سر هنکو غور ځنګونه
د تاریخ زرزریني وي
د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لرې توښې وي
چې منګل یې د زمرو وي
د هغو ماري سټکې وي
په راسمو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي
پرناوړي سنګر بایلي
وینې سترګې پلیتې وي
دونګ تښتي ګڼ پرګانه
چې د بدرڅېسې وي
د میړونو لوی لاسونه
خپله توري او بلې وي
د ګیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -١-

چې یې پښتې وي غزولې

د هغو د اکې سپېرې وي

چې له ژوندانه ماتې وخوري

زور یې تول په موسلې وي

د مړشواکو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښښ هم ځان سره کوو کړي

چې یې خپلې پښتې کړې وي

دیوروغ دسیالی نه وي

د ړندو که پرکښې وي

○

○

قام دلې دلې تورو توربريښ کړي

دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر دلیت خپلې دلې ته سنه وایي

دغه دستور د دله بازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق به حق کړي

"قامي[2] جرگه" کې سوال د لیړه دی

چې "جرگه غړي[3]" ټول شته منان وي

وار هیواد دی وندی وندی دی

کاواکه دروجي واکمنې دلې

څوک يې د مخې دکاواکۍ دی

د "سلاغونده[4]" سیځلی لار ده

ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکی = دیموکراسی.

۲- قامي جرگه = پارلیمان.

۳- جرگه غړي = ممبران.

٤- سلاغونده = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دى
واړه شړونديې دکتاب په رنګ کې رنګ دى
چيلي ناوېنکې په سمڅو، په لغمونو
بمبل توره د باطل سره په جنګ دى
د جهان په "ډنګ قامتو" سراوېنکلي
سالاري يې په نړۍ پورې قلنګ دى
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دى
هم چاپېره يې د سينه سرېتوب ډنګ دى
هم يې کټه، هم يې مخ ملازى وركړه
خپل پردي يې په نماڅنه باندې ارنګ دى
د زيارت خور دوته ناسته بې کتابه!
ستا کور لاړى ولايت د پلي لنګ دى

منکران په دليلونو منکران دي
او مُلا د بې دليل مذهب امام دى
روښانان خياله نه کافر دي، نه مومنکي
د تسپو سره ګرځوان يې له ناکام دى

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي دکه
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهکړې توري توهیږي، څې په دده
چې مُلا ورښکاره کړي کوم اسلام دی
ليشتکی له ليشتکی مفکوري زيږي
ځان وګوره په جهان دې څوم ږسام دی
مذهبونه په کړي د نیمسانو
دشته منو دخوندي[1] کتو سمام[2] دی

○

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي
دي دهولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
داد لاد دوران سر دی
دوتريان چې په کړ با دي
د هغولپچې تاويږي
له پيرونه چې په غلا دي
له زما، له زمايي نه
پساتونه په دنيا دي

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لېسين تري لاس نيوکړي

شاه ميړونه د الله دي

امانت د اوليا دي

چې له تا ځني سوا دي

چې د حق او د باطل دغره راشي

د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي

چې توره[1] يې د بتانو لېږول وي

خدای دې وګوماري ته هغه ميړه شي

چې يې غل غدو له ويرې بلوسه کړي

په مورچلو د قام ويښ هغه ليمه شي

چې مړه واکي ولسونه پرې رغيږي

که يې سل ځله توکي، هغه تارخه شي

څه زرغې زرغې کوې چا قهرمان ته

که ملا وتړي، هغه توريال به ته شي

غرونه غرونه واوري هله به شي ويلي

چې د نمر پشان پرې سور په ايشيدو شي

چې يو ه پلار ګڼي وما نځي اولس ټول

ته به هم د اولسياسو په وله[2] شي

۱- توره = دستور- قانون، ۲- په وله = په ډوډۍ - پرښمورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بيا به هله د سړي په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوش بيا پلوشينې شولې

د سربندنې کرامت وکوره
د ازغو غېږې گُلورينې شولې

د پلار خېرې دې کائنات د واړه
کاش چې دې توري بيا پلرينې شولې

با تورزي خپله به راوزېږوي
که د پروکي دې مابښينې[1] شولې

غړاو راغه يې شېخ ملې ونيول
چې د زمري سترگې تندرينې شولې

د تورانۍ لېونۍ کوڅې سره
څانگې غړانگې سندرينې شولې

چې بيا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرينې شولې

---

۱- مابڼې = يوغر

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي

او وله لوټې په پنډه کله پیدا کیږي

په خوبږلن کې له بحر کو توغیدونکو

تر آسمان شړبه کوونکي او رتاند پسرې

چې یې نو دتنې وچ ځیلی شړوستې شي

په کږووږو شېبونه راټوکیږي

د مذهب په کُن خوږلو لختو لړو

د سرسوري د قاموسونه جوړیږي

هک ځلمی بویه بیرغ د محمد له

دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه

لاړې نه شي رهنولی

د بوزرم انقلابونه

آذر نه شي راوستلی

○

د ژوندون او بزدي کیسو له　　کائنات به چاپول وي

له موجود ځني پېشسا به　　تر لوګیزی پورې تلل وي

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي
چې پرې کسرې وي وختونو
ګويا ځان لره توزيز(۱) کړي
د کسورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نيم سول شته، نه سوړ شته
د خليل مټ دې تود اوسه
د آذر چې بُت کره شته

○

د هند و عقيدو بنار کې
انقلاب را برسيرن شي
د زړو خدايانو مخ چې
ولسات ته کرغيړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په وړشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

(۱) توزيز = بندوبس

○

خليلان چې له تولـــنې
د خدايانو ورکـول کـړي
تولومړي د دې خدايانو
خدايي ورپوچ کول کـړي

○

کليمان د فــرعــونـانو
پاچايي هله غـــوزار کـړي
چې بې لاره ولسات تول
د دليل په زور په لار کړي

○

دکليم د درنې پــرګـــي[1]
خلقې وې وار زبــرګـي
هم يې کټـه ، هم بخښنـه
هم يې مټ وې هم يې سترګې

○

چې د وخت اړې کـړي کې
بڅاى تېنګ لکه د غــر و
د خپل پوخ «زه يم» په مرسته
د همه پرګنو ســـر و

○

ا- پرګي = پرګنې .

اوسې تش د عقل اند پښنو سره
ځې په تیاره لار او ور اوړکو سره
عقل که سقراط دی، بریالی نه شو
ګرېوی په لاس د پرشو کشالو سره
ستونځو د ژوندون له برمه پرې یستل
دل یې چې سپوږمۍ ستوري کړل پښو سره
لا تر اوسه لرې له خپل ډکه یې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره
کله په یوې کله په بله ځې
درومې دې نیلې د بربوکو سره
وینې اوسبکې وچې شي لنبې کښېني
عقل چې بلد شي الله هو سره
راشه د کعبې درشله ونیسه
مل شه ای حیرکه کلیم زو سره

آدم زی له مریئیتوب ځني آزاد کا

د "ماکانَ لِبَشَر"(۱) سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو ورزم تېر اخېژي

د هغو ماڼو کړ کچو خور بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لرولو ورستو

شړی ورا ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غر قبدوشي کلیم واپي

د دوران فرعونانو ته د خدای راياد کا

په لوخړو کلی پټ، په وینو ډوب دی

د کوچینی فکر سالار دې څه فساد کا

د مری په ځای خسبتن چې زور نیسي

د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

لہ کوپوانه د فطرت یې چې لاس وښکه

هغه قام به زر په غاړه کِند کچلول کا

لا اِلاّ چې یې توره شي د تهولني

هغې ډب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولو للناسِ کونوا عباداً لی ...)

حق باطل تورې تور برېښ دي تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نيم سول کا

د پر قامونو نه دي غونډې او بو وړې
په سين غاړه له بارګير خوشي پرزول کا

رسېدلی په خپل «زه يم» شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کندول کا

دا کاڼي يوازې تېر و خلقو نه کړې
خلق اوس هم په ژوندونو لو نه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سره خواره دي
په پردو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې ځانګړي سود پسې يې شي وګړي
په ټولنه کې سور اور په غرغنده وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي
انقلاب د نيستمنا په راتلو شي

چې بې وس دې دوسدا رود سيالي شي
د زرداره تپې دا کله پيرزو شي

دوتريان د لوڼګو غمونه نه خوري
له ليوه کله زره سوی د شپنکو شي

زر داري د پردو وينو لوی اغيږ دی
اغيږ لي عقوبت په چاو دېدو شــــي
الا مي د او بنستون د قلِ الْعَفْو ؟
دوترونه چي ورو - ورو په کمېدو شي
هغه کار چي کليمانو ته اتــال دی
هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له دستور د باتورانو چي بي ډک دي
خود په جاله کي پيدا بي مښنګيرک دي
چي بي ژوند د خدائی لاري په لاروي
هغی سيال دی، هم برخين هم په خپلک دي
د مېړونو لار داکي آسماني لاره
منزغړو ته لاري تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځاربي فلسفي شه
ځښتنان چي دلروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شرنخان کړل
په برمته ارم په غوښود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هلي ځلي
د نيستمنو، بي اسره وُ په کومک دي

تور[1] ځنګلي پرې برې راولي نه شي

چې د بدر، د حنین توری تر ملا دي

الاجي غوندې دانه راوړي یو ځای له

شاه ځلمي له شاه ځلموکه شاپه شا دي

ننګیالي د سر زړه وکي د تور سر و

ننګیالي ځکې شملې داولیا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي

زړکول يې بیا کارونه د موسی دي

یو کتاب و چې امت پرې ټول راټول وو

یو کتاب دی، او لړوه[2] دوه او یا دي

هر دلیت[3] دخپلې دلې دوزې[4] وایي

او اَمي خلق حیران، چې ترڅه ریښتیا دي!

---

۱- تور ځنګلی = چې توره ځنګل لري د باطل ځوا کونه.

۲- لړوه = ګوندونه- دلې.

۳- دلیت = د دلې غړی.

٤- دوزی = ثنا- صفت.

○

د ژرازې(۱) تنګسې کړښې کښې
ژوندانه کله ځائېږي

ژوند غښېږي، او چتېږي
ژرازه خوري او سمسورېږي

د زازی وجود د خیر دی
چې پرې «زه یم» شیرازېږي

د وجود دنیا تاغیر خوري
«زه یم» کله تاغیرېږي

د خښتن په لیکه «زه یم»
خپل قامت ورته رسېږي

د زازي ځاندره شي رڼګه
«زه یم» هر کله پائېږي

○

د له د خدای ماتي خوړلی نه شي
څوک ئې تړلی پرانستلی نه شي

تورې به ستا د موزیکې توره وي
د میړه توره پخېدلی نه شي

۱. ژرازه = (لکه واړه ژرازه) ماده - چې زیږ ول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الاهو رپېږي
څوک په سنګرې ور ختلی نه شي
زمانه هر څومره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
د غیرتمنو د کټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کښېنلی نه شي

د خیګڼو[1] خاوندان چې اړ و پېچ شي
رسوي به څوک جاله وایه څکو ور ته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بلو نه پردي ور ته
په زنارکې تسپې و پیلې خلقو
یو مخېزې مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

۱. خیګڼ = شناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دي توان د مېتوڼه يات د شا ځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غر ته
د کليم د پېرې خلق هم هغه دي
نيمګړتيا وي چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېښوار د محمد (ص) په وينو جب دی
د طائف خلقو دي تيږې بيا ورولې
دا جنډې د کليمې چې چرته رپي
دا د بدر له ميدان راغلي ستهولي
د کعبې په توره کته لوظ کوونکو
د سرونو په بازو غاړې خلاصولې
صدقه د وينو سرو د پتيالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پيمانه کېږي
د تش تورکي پيمانې کله چاکولې
سمندرې خيرې غوڅ کا خپلې غېږکې
که او به دا الګه ورځي خټولي[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سره ناست دی
خو که سترګې ليونو بيا وغړولې

۱ـ خټولي: چې د خټو لړلي وي.

پخه مه شه د توریال د مړدې توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د ژوندې مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړي ړالاندې هیوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
ځي راځي بوربوړکي انقلابونه

یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور دخیلمي[3] دي بادوړي بیرغونه

هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
را رژېږي نوراومه او په رنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوی شي
په غرمبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،
۳- دخیلمي = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،
۵- شناختې = خازې

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ظلمو شهوتي پرکې شي

چې یې کډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلو لکۍ کوزې جنګولې شي

راسمني د مشرانو چې یې نه وي
بې درنې پګړې پلرینې یې بښنې[2] بښنې شي

لا شه تورې بنیادم تشې کاڼې شي
چې په برخې یې ژوندە عقیدې شي

د شاد و غوندې پیښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو بنتون بسمې بسمې شي

څم په څم دی له خاورینې دیوې ګرځه
له دیوې نه عقوبت بلې دیوې شي

کوچ شومّلې[3] سره بېل بېل کړي
زمانه دڅ وند شاربل کړي

د میږ لاره یـــــوه وي
چې څه کاندي هغه تـــل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- سبنې سبنې = ریبنې ریبنې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

چې په لار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره
چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نيزه وړي
که آسونه ډېر تېخل کړي

د بڼې ورځې په تکل کې
خلق توري هم کال کړي

د کالا کوتر وته کوره
چې په نمر پسې غپل کړي

دبا توران نوغي[2] دې خور کړ
د رته دي پاتي تش پيخالونه

دلبه[3] مرداره ځنډوي لاس کې
تش تپوسان پرې کوي سود[4] ونه

د چتو بنکاري دو کزې نه کړي
هونايي کرځي نيسي بازونه

---

١- شهزاد د = ميکياولي دکتاب نوم ، ٢- نوغي = اصل - نوغي خوړل - بيخ ورکول ، ٣- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مينه

چې پېرې اړې وي د باتوراڼو

نه ښکارې هغه دنګ نښترونه

له خدای اګاه شول او نه له ځانه

طالبان وايي کوم کتابونه؟

غرابين زنګ شه، او توري پټې

پاتې مُلا دي، يا يې بانګونه

وګړي کوږه په غوږنو و پوزو

نمرې له يوبل راشکول کړي

کارونه واړه دلاس بري دي

څوک شي سکوندلی او څوک سکوندل کړي

دښته منانو دېنګان راپنه دي

دښمنانو ونډې ويشل کړي

يو پنجور هم خپل نوغی نه خوري

آدم لګيا دی آدم خوړل کړي

څوک په خمڅو[1] پسې ړانده شول

څوک په اوبزمکوکې[2] شونډه[3] وهل کړي

---

۱- خمڅي = دنرو جوارو دوډۍ - خوار خواړه، ۲- اوبزمک = غوره زېړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډوهل = لکه څاروي چې په ګياه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لوحې نښتنه

ځمکه وال ځمکې ته انغاړل کړي

دوړې تو غوښنو د دوزې خېژي
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلهوا ړي

دا انقلاب دی، هم دا پیکار دی

چې سپوږ او پلی سره یو سیال کړي

هغه ریښتینی کاروان سالار دی

وارته دې خوله زرغې زرغې کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

مېړه د عقل، غوښنې د ښکار خوري

د عقله پلي پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته ترخه توږي

یو څو مېړه دي، نور ولس خوار دی

کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی

یو سر او بل سر عالم بې لاری دی

د ننه په تن کې زړه زرغون نه کا

بهر بیا کوره خه رنګ بهار دی

○

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی

کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي

د دوران کوږې خوره اوشه بدل

درناوي او سپکاوی په جسوار دی

ستا په لاس ده که ګټې اوسې که نسل

تشه توره ګوري لار د ګټې نه ده

توریالیه! چې څونه شولې حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندي خوري

تیار خوړ کړي د همه ولسیا غسل

د یکرنګو ګوګل پاک وي تل له ویرې

درغلان او دورنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکړې

اوس وهي به یې دا یلبند شمال او ربل

○

حق ټولنې ځنې پرته هر نظام کې

بنیادم له خپله ځایه راغورځېږي

## دککوري د سرې ټوکرې دپاره

آدم زوی بل آدم وته ټیټیږي
یو شته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نیسمنان خو په جغ شوي تل اوسیږي
د ناچارو کته باندې کتوي باندې
د چارمنو کتوي به بی اکتي پخیږي
د بې وسو د خولو په ترمو خاشکو
دوسدارو ماڼي رنګ، خمې د کیږي
د رناوي چې په مورۍ[1] یا په دوترو وي
لونګو به په کنځیکه خود ارزیږي

بې اسرې آسمان ته غړېدې غړېدې اړې
په ظالم چې به لاکله نسکوریږي
په زوخره به یې غرونه شي ټول ویلي
په لړمون د ځمکې داسې اورختیږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنیزه ژوند سمسور د سرې جس کا
د ټولنې مدعا واړه سرې دی

---

۱- مورۍ = پانګه،

په توله ریزکي لوی قهرمان شي
بې توليي قهرمان هم لیشتکی دی

چې توله دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواکۍ د آدم زی دی.

د توليي سره مل ، دځان ښارن شه
چې ستا «زه یم» د ښهوندون ځانګړی شی دی

چې توله یې باره[1] دا ارتیا[2] ناخلي
هر بنجخی خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه واړه نړۍ یوه کورمه کړي
دیوې کورمې خوتل یوالنغری دی

○

دا زغوله ویخه ستړګي را تو کیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څوک بیږي
سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري دزړونو پت غلونه را نیسي
د مزګو پیت پرک هم په تیچه وي

شرق ناتاریې د وختونو نیمه خواکړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی ، ۲- ارتیا = ضرورت- نیکرتیا- کړمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خو ټه خوړي ارکجه وي

○

د شنډې تخم کرونکي عقوبت وي برخه شنډه
خېږې څه کړې چې نه موې ځوک يې وېږي له درست ونډه

○

چې د ملال او ګړوندانه دوا پراکات شي
سړلوې به دې هله په ولسات شي
چې نيستي د بېسمنانو نه غوڅېږي
اوردې پوره په داسې خير خيرات شي
ولسونه په مېړونو ګړوندي اوسي
چې مېړونه په نيش لکي، خود ميرات شي
شريعت چې په اندړول[1] دخپل وخت نه وي
عقيدې واړه ذکتيي لات منات شي
د ګړوندون پانې په خپلي سکې[2] کېږي
هغه ورک دی، چې پېرې يې په ميرات[3] شي
چې يې منډه نه له دين نه له ساديه
د ګړوندون خوايږه په داسې ولس قسات شي

---

۱- اندړول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه .

د هغې او ښې ملامـا ته عقوبت شي

چې يې بار له خپله توانه ځني زيات شي

هر غور ځنګ[1] ته دو رنګان ورښوځي

ځان دي پوهه په دې ټکی هرسالار کړي

تا بيا کرانه د بهر د غليم نه ده

کور غلي په اتبار اتبار ګونه ار کړي

د دو رنګو[2] وي نظر په خپلو ګـتـو

کله غاړه کې تسپي کله زنار کړي

چې د ننګ خبره راشي کور غاري شي

تش ميدان کې به د ورو تود بازار کړي

تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري

شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي

دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليکه[3] دی

يو مخيزه شاه ځلي يو مخيز کار کړي

---

۱- غور ځنګ ـ تحريک ـ خوځند

۲- د ورنګ ـ دوپرک ـ دوه ژبي ـ منافق

۳- ليکه ـ حساب

○

همخېل جس دی سرېتوب خوړې ایرې کړی
د دوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی
ښبستن ټول د قدرو وړ دي پیدا کړي
یو سړی د بل سړی نه په څه کم دی
تړپیمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس یې تل زغمي، نو ولس ګرم دی
ستوړ تلیزو ته چې لاس شي ړ سولی
ولې سود یې په کلونو د شرم دی
باتوران چې د کونترو ځای له را شي
ای ویړلو! نړ هرو چاودی د غه غم دی
دې ټولنو او دودونو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی
په لویدیځ کې لږ له عقله رنایي ده
په ختیځ کې د هرلوري نه تورتم دی

○

نمرپیتار[2] چې د فرعون وي نرامن نه دي
نرامن هغه، چې فرعون یې ورکول کړي

---

۱- تړپیمار: وهل ټړل، ۲- نمرپیتار: د بل دودی ته ناست.

چې بې جسه وي جابروته نه تېښېږي
چې جسمنه وي جابر را بغول کړي
چې د بل په سترګو وینې تول راڼه دي
روغ هغه چې یې پخپله څیر ول کړي
نه سړي شو چې سړي یې خدایان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي
چې بلزونه کړي تنزري، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي
ننګیالی د شروند نیمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي
په ذروکي یې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشي لورپه لوټه تیرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګیاله په رشي
ښاپیرک په توروخمخوسرنښاسي
سورپیا شه ختیځ رانولي پلوشې
د بازونو باتورانو پدې قات کې
تېرپوسانو څنې غوره دی باشې

د دروغو، دناحقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټینګوي بې مشمشې[1]

لا لیدلي یې بوږ سترګي کلیم نه دی

څکه کرځي فرعونان لا په نشې

دحق د وګه له خپل ځای رقولی نشي

د باطل داشد تو نه خرخشې[2]

اروپیچ چي له نقشې دکائنات وي

په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چي د ښه سترګه وبر یښي

غرونه واوري کاندي ویلي

حق بریال پرون هم نن دی

که یې نشته څوک په سیلي[3]

داوبو د مخ کیل نه دی

کلیمه د کاڼي کیلي[4]

د نښتر د سیالی نه شوې

که په خنز شوې ډېرې ډیلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده، دنهوره. ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلی = ملاتړ

٤- کیلي = کرښې، ٥- ډیله = یو واښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخوګ بدو ته نه وايي
خلق شوي داسي ايلي
چي رنځور باوړي(۱) وکړي
پوچي شي د دارو هيلي
له پولاد اصيلي زيږي
خړي نه زيږي اصيلي
چي نښتر له برمه دروي
نه ټينګيږي په يونيلي

لکه کس کړي په ځان غاړي
هسي قام په ځان ځاني(۲) کړي
د هرچا تبر له تن دی
خپلي سپيني خپله پري کړي
هرڅوک قبر ځان له کني
هرڅوک خپلي جنازي کړي
غليان له کوره زيږي
پلمه بازخه له پلمي کړي
هرڅوک ځان نه تبي(۳) سري کړي
بيايي ځان باندي سري کړي

---

۱- باويړي = د ناروغي بيا تاند يدل، ۲- کاني = شندي - غاړي، ۳- تبي = د کمتي تبخي

خپل عمل بـرى ښښـــن دى

خپل عمل په غاړه پـــرې کړي

څښتن ظلم تـيـرى نه کړي

هرڅوک خپله د يوې مرې کړي

د فـرعون دکور له درنـده[1]

کلـيان جګې نـيـزې کړى

په مسور[2] و باتورنه رنګوي نوکې

د تنزيه و تودې وينې يې مسوروي

د ننګيال کرلي خپژي ، سمسوريږي

ميږي وانړو او سپينخرې که سوسر[3] وي

د دوران تابياد هغه چا دوس ده

په غـ ښتنو شړوندون چې يې نظروي

د تاريخ توپل نرزوزي پـرکونه سيي

چې مدام د ننګيالو موټي لښکر وي

منکران به څوحق د لارې تښتي

د هريو لاربه آخر پدې خيبر وي

---

۱- درنده = غولی- جوَس .

۲- مسور = دمنوکو نو رنګ - نيل پالش ، ۳- سرسر = دوکيا کېدونکی اور .

کلیمه لوی چیناګر دی    تل ترتله په غوږ ځنګ
سوسرونه پرې سپرلین دي    سیمه سیمه پرې ګلرنګ

دکشر مشر فرق خوخود وی
څښتن لومړی دی او پسې ته یې
د یونه کچ یې په نورو بـــره
هغه قچیره، ځواکمن مېړه یې
چې دې خویونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
ځکه دې غوره پخپل سر اخلي
د هغه مټ یې، د هغه کړه یې
د هغه مل یې، په زړه بسیل یې
له سین زرغونه بربوکنی نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱- غوره، تور تهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

○

په درست عمر کې بوڼه[1] دی نه ده کړې
دادی باز دی وهنده او دا میشکار یې
یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
د کانې غوټکې یې ټول عمر په لاریې
نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مینود څه
هسې لوت[2] یې او د ځمکې په مخ باریې
څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګاریې
حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې اوس هم زناري یې، بت ګزاریې
لږه پښه و نیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خواریې
چې همدغه مذهبونه دې امساوي
لکه ونده له کړنګونو به غوزاریې

○

د غلیانو په مسودونـــــن
چې زنارونه و، هغه تسپې دي

۱- بوڼه = لومړی ښکار کول، ۲- لوت = بې هډو کو ځانده.

کتاب کښلی، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسي دي
انځور هم هغه خدائی انځور دی
ولې پرې شوې پوچ کښیدې دي
چې خلیلانو رانړنګولي
دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې نړولې دکلیمو خیژي
چې ویخ یې کوې بې کلیمې دي
دمذهب شړوتې لیندۍ پرلاس دي
ځکه یې ویشتي تل مړوندې دي
چې حق ننګي وه ځلمي وغشي
چې بې ننګي شوه ځلمي ډړمې دي

دباتورو دور تېر له دهر
لړه ناسته یې په ځاله
دشړوند بړد[۱] کې، راڅي پېتې[۲]
دنصیب لیک ته اتاله
چې نیستي په هستي مارلي[۳] یا
څه به خلاص شي له زواله

۱- بړد = سیالی، ۲- پېتې = وروستی، ۳- مارل = حسابول.

چې يې ګډه کليمه ده
ولې نه دې ټول را تــــالـه؟

بازدارې دې خپله ستاېي
په دېوال له تښ پېخـــالـه!!
په نزې باران پسخه شـي
اوم غـړن لوښې کلاله!
د بل کټي ته په طمـــع !
هيڅوک نه کټي يې تالــه

○

خوارږه برسېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ټولنه که هرڅو تــرخــه ده
تيرې به وي ترهغې ځــلې ځلې
چې دې د يو باندې د يوه خوږه ده
حُجره، جُمات کې يې ريښتيا وويـل
له يونځيز نه ولسيا خپــه ده
د راښيا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سر وغنو چا په چاپه ده
د صبا لاره څوک د ب کولې نه شـي
مېنه د او خت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېږنۍ وویل
دا د برنګ لارې لوېږي کړېږه ده

سبه عمل «زه یم» ږغون کړي
بدعمل د «زه یم» ږنګ شي

چې په «زه یم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخي شي دوږنګ شي

بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت دخاوږوږنګ شي

چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې دخدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که دچا ننګ شي

---

(۱) شهسړی = ستر سړی - لوی سړی.

ښکېنېده پرې ستا عمل دی
که دې "زه یم" سرانځور دی
شو سر هسکه دلې هورې
چې په "زه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه(۱) یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د خېټې غم خوړکو!
خېټه هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په زه یم
بې له زه یم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سړی ذات پورې پېغور دی

دمېړونو تېرو تورو چورنګ یو ړل
د اَتي په امبالې چې غوړېدل
د هغو ښارو بنه الوزي
سر چپه چې جُوړه باز ته نېغېدل

---

۱- ځوانکه: د زړي يا تخم هغه شوني تيا چې زرغونه ترې کېږي.

دهغو په طبیلو ځروڼه غښتي
چې له حق څخه ناحق ته اوړېدل

چې خوړلی سوګندونه یې دوفا وو
دار یې ییښي په اوږو وګرځېدل

د رندو کلي کې کراني خرمېږي وي
او لالونه په سوپیا کو خرڅېدل

دکلیم په برخه دا رنګي مړښوا ک و
چې له واکه بې واکې ته پسخېدل

دمېړونو پولادي متې سنګر وي
تور برېښونه یې شملې دقام دسروي

په پوړونو دجمات خوبونه نه کړي
یرغلونه دباطل چې یې په سروي

دمېړونو نغری کوندري شرېک وي
شیخ ملی دوتر یې واړه یو دوتر وي

مخور د زماني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستی نړی وروي

دزړه زم چینه به یې هم چړی تاند نه کړي
چې پخپله روستی ځیلی د نښتر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نېزو کې يې دومره ګو ستورې ولاړ شي
ننګيالي د نمر خاته ختلي نمر وي

که د ينګان لرې هر خو ستړې وزرې
لوېې مارې د باتورو په ځيګر وي

چې کاسير وي په پړوني کې بربنډ وي
حيا خپله حياناکو له څادر وي

پردې بد شي د کتوې خپلې نکولي[1]
بدي کړوني خپلو بدو له اشر وي

د مېړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
يا د هيڅ تول ماڼۍ يا تول نهر وي

○

چې يوه يې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کُنجي[2] لاس وي
په توده کې يک[3] جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده    نه د شوند دستور او لاره
چې يو خو دې په وله[4] وي    او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولي = پخکړي- لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاسونه وکړي.
۳- يک جلب = چې آسونه يې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماڼه- هوسا.

د مېړونو لار[١] لومړی توری وهل دي

چې نړۍ په ولکه واخلي نو ويش ګړ شي

د مېړه نيکه دوتر چې شته کول غواړي

هغې مېتې بډې راکاږي او نسر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بوږيه[٢]

چې ولس يې د شړې وي، شړيور شي

ږمانه که ببرشوی اباسين شي

شاه ځلمي ورته پښې ښنجي کړي تورغر شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه

نور خو هسې ځلقې خوشې ککر شي

د سينا په دونهه پنډ ټول سر برې

ديوې دونهې ترمخه يو تبر شي

برغو[٣] پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له

دا خوار وار بنجخي[٤] که لښکر شي

---

١- لار = قانون ، ٢- بوږيه پکار دی، ٣- برغو = سنکر- تورم ،

٤- بنجخي = دري خچي ( په اصل کې دوني بوټي سرغوته وائي .

په توربرېښ چې په میدان کې جنګیالي وي
سرشیرې کې یې وتلي ننګیالي وي
په خپل کور کلي کې د بېرخلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي
چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي
کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شی دی هغه منه دابدالي دی
په دا څه که دچا توره ابدالي وي
په سومنات دغوا بېن په خوله بانګ وایي
چې په ختنه کې یې ګډه بلالیؓ وي

بازدارې پورې پېغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول
په تولنه کې رښا پوښتي ژانغله
که وکړي تول د سیلمې نه حاجیان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعوني او هاماني په زلزل ګوره
پدې شخړو کې يو څوک کليمان شول
چې ړيوې يې ستا پلرينې واخستلې
د ميړې له ځايه پورته شو آتشيان شول
د همت سپاره دې وبوګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زړه ريالی له خپلې ماري په شانه شو
په داغه شي په ړنګ ړنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونولـه
ستا يوه کوکه ورکېدلی نه شي
ته ره شلونه دا زغو که وي تل
د ستر ګو لاره څوک نيولی نه شي
د ګيدړانو په اور ړوکې چړي
د زمري غورځب خطا کېدلی نه شي
چې شي لاس بری د فطرت په لار و
په هغو چرګ را پربوتلی نه شي
د نن په ګټه چې بې سود کړېدی
د صبايي ميدان ګټلی نه شي

چې له دي ځمکي پورته شوی نه دی
خبر د بل نړوي راوړلی نه شي
په شاه میره یې انګازه شویده
که یې بنجخی نسن لیدلی نه شي

چې د لیچو زور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګیز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که د غر پشان تومن وي تار پتار شي
له دستور دکا ئنا ته څنګ وځتي
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میړانې شي کولی
چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بویه
خرڅک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکي ولې ناویسا یې
هم بخرکی چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سړي هيڅوک خيم نه خوري
که پرې تېر د خزانو نو تر يسمار شـــي

◯

د باطل د وېرېتـکـي خو کليمه ده

له نيمګړو مفکورو هيڅ نه وېرېږي
د پر قامونه به د ځمکي له مخ ورک وو
خود تکه سره تېغ نه وېرېږي کېږي
نړېدلي(1) ټول سمسور په دل ځوخت ترمينځ کړي
تلوار کړندو! ديګ پسوار باندي تود ېږي
پلويانو د روسوا وليننن! واورئ
دا نړۍ ستاسو په وړاندي به نوريږي
بنستونه د ړوندون په يوه حال وي
ادا ښي مکوله وخت سره نوريږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندی
خوار هغه دی چي يو لور ته ښکلېږي

◯

په شونکار دا باسين چي شوی پورته
ولي چپ يي د ماښکي سندره نه کړه

---

۱- زېږي = نړی.

تا ړاکوله دخزان زړګونه تېر شول
خود سړوي شنه جامه يې زيړه کړه
چې ړيښتيا ويل دکومو خولو توروه
بر په دار يې له ړيښتيا و بله نه کړه
راغلل د هر انقلاب ونه دلې هوري
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه
ميړني په ميړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه
تېرو تېرو، تهمتونو او خونړۍ هم
هيڅ کچه د ريښتيا لو عقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشي پکې ځليږي
شاه ځلمي هم په هغو لاړو چليږي
د سجدې د جماتونو په پوړونو
د ميړه په يوه هڅه نه ارزيږي
ککرۍ د کليمانو وي تل هسکې
شکر وړې ککرۍ ورنه ټيټيږي
حقملان له زمانې وي پيرۍ مخکې
خلق نور د زمانې په دود تيريږي

کلیمه د کائنات سره جنګړه دی

غل د رغل به له جنګ غالي پښا کیږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړدې کا

دې ته مه ګوره چې کله صبا کیږي

د میړه له متو پاخه — د ناحق جهان نسکور کا

په چینجنو روستو ګرګو — بود هیره پورې اور کا

دا خدایان د تیښتي نه دي — ولې ته سترګې د بور کا

د قامونو نړی څمکه — د آدم تالیزه کور کا

دا د غوښنو تش لوتو نه — په خلقا د جسو نور کا

د ښښتن په ګنبد وکې

خپلي چاري دې اخور کا

په تیروتو روبرغند څي

ننګیالي څي په خپل منده څي

د میړه د خولـــــــوونم

د سپرلو له ګرده ونده څي

---

۱. بور = نهری.

له ښېښتنه چې هم غرن وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خیر دی
که ځي دار لره، لونده ځي
وسپینیزې ختې[1] را وړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
ځه یې ویره بیا له اوره
زړې مات وروکې کوروکړي
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو[2] به تر خو سود کړي
کائنات ځني پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

1ـ خت = کمیس ـ کمیس، ۲ـ چرسو = تنګ ځای

## سرېخېره تل پائېږي

خير دي نشته سرېخوره!

د فطرت په هنداره کښې

له ښېښتنه ځان ته ګوره

چې ځان من دی هغه کس دی

چې ناځانه دی ناکس دی

په سيلاب غرونه لړېږي

څه ارزښت دلې د خس دی

يو په لس، هم يو په سل دی

پياوړی چې په جَس دی

د هوسو د غزالې[1] نه

د زمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سَرد[2] له

يو بڅری د اور بس دی

ګړندو پرې ږيره ګل کړه

د مته وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله = د هوسو سېل

۲- سرد = يو وابنه

○

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام له کرګس
په درست قام یې لګولی
له پېرو واسې ګرګس
دوی ړښمین له سره واخلي
قام له پاتي شي یکرس
روږي دوب کاندي ولس ته
بیاکوي مانځه او دس
د بې وس ونډه کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا ترکضوا» وخت لنډ دی
لاکوئ هوا هوس

○

چې څټکوري ظالمان شي
سینه یخه د جهان شي
چې خدایان پرمخې پرېوځي
را اوچت بنیادمان شي

چې ځانګړی دوتن ورک شي

په توبنه لولنګران شي

کلیمه هله په پښبـوشـي

دباطل بورجل چې وران شي

زورداري کې ځاناځـان وي

کلیمه کې ټول یوځان شـي

○

پدې شخړو پرکښـوکې

هم هغه ځلمی اڅور دی

چې دټول نوعی دخیره

همه چاروکې حقطوردی

○

پورپه جسوشه بیاګوره

چې یوتن څنګه لښکرشي

دمیړه له چاروبریښي

په تندی اخستی غـوشي

هم دهغو برخېزتیا ده

چې خردېک پاچي نښترشي

له تنې زوخ چې اوچت شي

لکه نمر پېرې تل سحرشـي

چې ښړوندی وي د ښکار ځله

تودې وینې خود شهپر شي

زمرین ګوابنه شاه ځلمو ته

سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورې دي

ځکه يې غشي بې پلې دي

چې له بازچې ترته ناست دي

پېغالونه يې ولجې دي

ولسات لکه تنزري

د ښکاريانو په ښچې دي

د بل مځه يې پتوله مخه

پړکني نه دي ترمې دي

د نمرود وسيلې وايې

له آنريې عقيدې دي

چې نوم ړی په سرو دي

د سرو تشې پېښې دي

د باتور نخښې يې نښته

لا ملخی توپلې جوڅې دي

د يو شرق زغملو نه دي

دا پړي دومره اوميي دي

پکې زه يم بوده نه شمه

وجود تشي تنستې دي

○

د آدم ځانګړي، زه يم، لکه حق صمد احد دی
تن زا بزه دی ولي زه يم، لم يلد ولم يولد دی

○

د هر زړي په درون کې د خپل ستر وجود انځور وي
تيغ، تنه ځانګي ګلونه يي هم کامونه په خپل لور وي

○

ديکرنکه برید ميږونه نيسي نورنور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لړنه دي که ساره نه شي متونه
لمن څه چي، ځادر خور کا د سپرلي ډېر دي ګلونه
ته لاميشت په سرپراوي ژوند دې شخړي پړاوونه
خوني خوني ستورتليږي تازه نه کړه يو خونه
که تنا کوته کښېني شي کوته به مزلونه
قدم تيز کړه، چې غربيږي ستوره تلو کې جرسونه

يوه ورځ به درته راشي

ستورکزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي

وړانګه کړه شي په وړانګې
ړادبره نوی نمر شي

چې حجرې غښتلي پاخي
نو ډېرګ ځاندرو سحر شي

ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي

چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي

هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو څوځې نوی په سر شي

شهسواران چې یک ځلب شي
د بړدونو(۱) لوی اختر شي

تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي

لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

---

(۱) بړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېښې شي مخ لـوځي
چې شو ګیر تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل تـوره شي
بیا آدم جنت ته ورشي
چې د عقل سپاره ویښ شي
پوچ خدایان هله ړبـر شي

د وجود تومره زیبون دی — او د «زه یم» نوښتون دی
نوښتون کړه د ژوند تَره — نوښت «زه یم» له پاڅون دی

یو غورځې دی اباسین دی — غرونه غرونه دی یو ږنیز دی
یوه هڅه دی سپوږمۍ ده — یو پېغل دی ستوری تلیز دی
له تش سَتر لاس او چت شوی — اوس د هر غوره غوریـز دی
ستا د توري له تکـوره — کائنات ټول سندریز دی
غره راغه دی له همته — ګُل لمني ګُل مخیز دی
لا د ژوند غرمه ده لرې
دا خو اوس لا سوړ ګهیز دی

○

که د ښروند نقشونه د پردي
ته د واړه ښروند انځور يې

نور ښروندون دي همه پلي
همديو ته يې چې شهسور يې

واړه ستوکي يو يو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طور يې

د هوسي په سترګه د ننه
هم باتور کسي د بور يې

د ذري په ځانده نمر يې
په قطره سمندر سپور يې

ته په ځمکه کې آسمان يې
په سرو او بو کې اور يې

د لشي سره پياځه[1] يې
لا شه تور، هم تکور يې

چې راغونډ شي موتې خاوري
کائنات شي چې ورخور يې

د مجرو په ارونګه کې
له ظاهر ليده څه نور يې

---

۱- پياځه: د شاتو دک ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
نه همسیال د خدای د کور یې

○

مفکورې به د وېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې

چې یې ښن سندرې وایي
په صبا یې وایې ساندې

○

په ټولنو کې زرغونه    دا د نیوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دی    د خوَلو وینو رنګونه
د شاه مېنو الامې یې    اسمانکه سنګرونه
کښېدې یې د کړاو دي    وېر سپېرلي شالېزارونه
د ناغوسترګو شوګیر یې    شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګړېز یې    خوږي وکړي شولانونه
د عقلي مېښود رَشه یې    هڅوبونه، تهذیبونه

○

د ځَلي د نرګس غبن دی    پسرلی یې تانکه راتلی شي
په اړکه چاپېریال هم    انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه    مله د لارې تولیدی شي

میړه مل که د څښتن دی    له څښتن مخکې کېدی شي
د تیرواز غوله تخرګنه    نوی ژوند راستر کېدی شی
د فرعون له خپله درنده
کلیمان راپاځېدی شي

آدمزاد لا لېشتینګ دی    لا د پړ لري له خپل ډګ دی
که په تومنه باتوران دي    لا په چاروکې لوکګ دی
فلسفیان یې هلک فکره    لا، له زړه یې بې درک دی
په دې ویرلوی کائنات کې    په یو ځمکه، نمرتاوګ دی
که خپلواکه د پرځان بولي    چې یې ګوری لاپل وګ دی
د شپانه ښاریې لا نه زده    شرمخان د خپل کنډک دی
لا یې عقل د پرکچبه دی    لا په ډیر جهلونوکلک دی
د سرښوره نغوتکو    په لاسونوکې لینزک دی
زبینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولګ دی

لا په سر یې فرعونان شته    لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي    لا دو چې د پرخدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول    چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحیا خپړي    لا لند پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کړنې    د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وايي    لا مخ ختمي زناریان شته
قلمونه په اورسوځي    لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی    لا د قام، خاوري بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به اخلي، ادمزی چي
له خپل ځانه اشنا کیږي
د خښتن اود خپل ژره یم
په اړیکو چي رسیږي
وخت به اخلي داحیوان چي
د سري په پښو پاڅیږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چي
د بریږي، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړیږي
وخت به اخلي کائنات چي
ستر آدم ته بیاتیتیږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د دېرو پېرو څنډ دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په ښته کې لوی کولند دی

○

ته په ښتول کائنات برېږې خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په "زه یم" که سیپی په تن بهرېږې
په یو څاڅکی کې متوپان یې په ذرې د ننه غرېږې
بر سېږنه که لاکځ بنکارې چې په جس شي نو سره زرېږې
ستا توبرې توره دې "زه یم" هم په "زه یم" ولجه کرېږې
که ورستی راغلی کاروان کې خود واړه کاروان سرېږې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی د بهر هستۍ په چڑېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه لا د نیم ځان روزنه کرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور کرېږې

○

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

الکتاب په ادم زونـــی
لا ژبودن آخرنی دی
که هر څومره لغونی دی
خو هر ثن کي صبانی دی

حق لا اوس هـم نا ویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعوني دی په خمار کي
ناز پر بری کلیمی دی
چرک پر پوتی سیلاب زوځي
نوح پلوی بې بیړی دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتي نه دی
دالیندی واړه بې ژړی دی
خلق خبتي د بتکور دی
ځکه شخي آذری دی
ناپوهی دهر وګړی
په وګړي په غدی دی

مفکوري پوچي نيمګړي
ښکيلکونه، تيزندي دی

چي خوندي دي ګړوروړه شه
چي دي وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بيرته شرق په ځپل تندي شه
دباتوروجس يي باپلل
چي دچتووهندي شه
پولي پاڅي آدم وخوري
چي دپولوځای بندي شه
دخليج پري ته وتی
دبُتانووهندي شه
چيا تونګ دا سمان وخوړ
څوک ځګلا په ګرپندي شه

شوندانه تول يوځانيز دی
که هرڅو مره ګڼ رنګين دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د تولو په یو مخه
که هر توکی بل مخیز دی

په یوبم په زیر جار وځي
د ارباب که زرتاریز دی

لاړي لاړي یوشهلاره
تهـل تلی، یوشهتلیز دی

ستورتلیز ستورتلیز کورکور
کائنات یوشهکوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څیز دی

خو ځمکه زې په شونې تیاو
د همه ښروند د توزیز دی

په تنزومې کیراوکړه
شیش بیا واخله ویره جهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متی راښکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې وباسه آسمان ته

له بېلي دریاب ته واوړه
له تنګي نه پلن دامـــان ته
غوړ کمنه په لینده کـــړه
بیا ورکښیږده سنـخ کمان ته
له سپیرغودي د پرشوند وکـړ
لاس کړه اوبه د نمـر ړو بنـان ته
پوهه بوځه څیړکتیا له
څیړکي را سبکه ایمـان ته
په نړۍ ورخوربـدوکي
ګرځېدلی اوسه څـان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**